# دټولنیزو مرستو کتابګوټی

هرهغه کس  چې د ژوند اوبیړنیومرستو دپاره پوره پیسي ونه لري په سویس کې دټولنیزومرستو یا سوسیال  وړ بلل کیږي.

په  هرې ګمایندې یا ټولنې کې چې ژوند کوئ هماغه ګماینده یا ټولنه ستاسو دټولنیزومرستو مسؤلیت په غاړه لري:

دټولنیزو سوکالیو اداره له تاسوسره دمشورې او له اقتصادي پلوه د پیسو ، کرایې او دروغتیایي بیمې په برخه کې مرسته کوي اودغه اداره مالومات کوي  چې تاسو ددغې مرستې وړیاست او څرنګه دغه مرستې ترلاسه کړئ.

تل هڅه وکړئ چې وپوهیږئ د څه لپاره او څرنګه ټولنیزه مرسته  ترلاسه کوئ.

| |
|---|
| **د ټولنییزو مرستو اداره**: ددغې اداري کارکوونکي په یوازې سر ټولې پرېکړې نه شي کولای.<br>**د ددغو مرستو لویه اداره(چارواکي)**: دغه ډول پرېکړې بیا لوړپوړو چارواکو ته وړاندې کېږي چې دغه کمیسیون کې(۹-۵) کسان دي او وروستۍ پرېکړه کوي. |

د ټولنیزې مرستې پیسې د مالیاتو څخه تاسو ته درکول کېږي.

هرڅوک چې ټولنیزې مرستې ترلاسه کوي (پوروړی کېږي) او د یو لړ شرایطو له مخې بېرته باید ورکړل شي (لاندې وګورئ).

کله چې تاسو ټولنیزه مرسته ترلاسه کړئ ، تاسو یو لړحقونه او مسؤلیتونه لرئ:
د "حق " مانا  ده: تاسو دا کولی شئ
د مسؤلیت مانا داده : تاسو باید دا وکړئ
د ټولنیز مرستې هدف دا دی چې تاسو بیا (مالي) خپلواک شئ او په خپلوپښو ودرېږئ.

**ستاسو مسؤلیتونه:**

دغه کارونه تاسو باید ترسره کړئ.

**مالومات**

د ټولنيزې هوساينې د ادارې چاروا‌کي تاسو سره دمرستې لپاره بايد ستاسو مالي مالومات ترلاسه کړي او تاسو مکلف ياست چې لاندې ياد شوي مالومات په ريښتينې توګه وړاندې کړئ.

کله چې تاسو تنخوا ترلاسه کو
» کله چې تاسو د چا څخه پيسې ترلاسه کوئ
» کله چې تاسو نوی بانکي حساب پرانيزئ
» څومره پيسې تاسو خپل هېواد کې لرئ
» موټر لرئ
» څومره کرايه ورکوئ
» آيا ماشومان لرئ
»آيا واده لرئ

تاسو مکلف ياست چې د ټولنيزې ادارې ته لاندې اسناد هره مياشت وړاندې کړئ:

» د بانکي حساب مالومات (هره مياشت)
» د معاش(تنخوا) مالومات هره مياشت
» د کرايې قرارداد يا تړون
» له محکمې څخه ليکونه

که ستاسو په مالي ژوند کې بدلون راشي ، نو تاسو بايد سمدلاسه د ټولنيزې هوساينې دفتر ته ووايا‌ست. د ټولنيزې هوساينې دفتر به تاسو ته ووايي چې نور بايد څه وړاندې کړئ او يا هرڅه سم دي.

**اغېزې**

که چېرې ستاسو په ژوند کې مالي او يا شخصي بدلون راځي نو د ټولنيزو مرستو له ادارې سره يې بايد جريان کې کړئ.

» نوی کار / او يا هم بل کار ترلاسه کوئ
» دکارپای
» دنوي کار معاش يا تنخوا
» واده
» اميندواري يا ماشوم په خيټه کې لرل
» نوی کور

**که چیرې تاسو د ټولنییزې مرستې له ادارې سره مرسته ونه کړئ لاندې يادې شوې خبرې پېښېدی شي**

که چیرې تاسوغلط مالومات ورکړئ اويا بشپړ مالومات ورنکړئ،او يا که تاسو د کارکولو، دآلماني ژبې د زده کړې او يا هم د يوه کسب د زده کولو وړتيا لرئ خو تاسو په يوې برخې کې هم کوښښ نه کوئ. کېدای شي په تاسو ټولې ټولنيزې مرستې بندې شي داپه دې مانا ده چې تاسو کمې اويا هېڅ پيسې نه شی ترلاسه کولای.

خو مخکې تر پرېکړو تاسو ددې ادارې له خوا يو ليک ترلاسه کوئ او ددې ليک پر وړاندې تاسو خپل مخالفت څرګندولای شئ.

(په دې هکله حقوقي مالومات حقوقی برخه کې لاندې وګورئ)

**د خپلوانو له خوا مرستې**

که چیرې ستاسوکورنی ( موراوپلار، لوی اولادونه ) زياتې پيسې ولري هغوي مجبوره دي تاسوته پيسې درکړي او تاسو ترهغې وروسته پيسې نه ترلاسه کوئ.

که چېرې واده مو کړی وي نو د جلاوالي په صورت کې ستاسو د ژوند ملګری بايد تاسو او ستاسو ماشومانو ته پيسې درکړي.

دټولنيزې سوکالې اداره په دې برخه کې څېرنه اوپريکړه کوي چې ستاسوخپلوان بايد تاسوته پيسې درکړي اويا داچې ټولنيزې مرستې ترلاسه کړئ.

**ټولنییزې ادارې ته بېرته پيسې ورکول**

د ټولنيزې ادارې مرسته وړيا يا ډالۍ نه ده نو ځکه بايد ترلاسه کړل شوې پيسې بېرته ګماينده (د سيمې اداره) ته بېرته ورکړئ کله چې:

» تاسو ډېرې پيسې ترلاسه کوئ(لاټري ګټی، ميراث ترلاسه کوئ)
» ډېرې پيسې ګټئ
» غلط مالومات وړاندې کوئ (لکه تنخوا يا معاش)
» هېڅ مالومات نه ورکوئ (لکه د بانکي حساب مالومات)
» د خپلو مسئوليتونو څخه سرغړونه کوئ

د مرستې پیسې په بل څه ولګوئ لکه د کور په کرایې ټلویزیون واخلئ، هغه پیسې باید بېرته خپل د ژوند ملګرې یا ملګري او خپلو ماشومانو ته ورکړئ.

که چېرې تاسو له کومې بیمې څخه پیسې ترلاسه کوئ خو تر هغو له مونږ څخه پور اخلئ باید چې هغه پیسې بېرته مونږ ته راکړل شي کله چې له بیمې څخه مو پیسې ترلاسه کړې.

**تاسو مکلف نه یاست چې مونږ ته پیسې بېرته راکړئ که چېرې:**

» تاسو تر اتلسو کلونو کم عمر کې له مونږ څخه پیسې ترلاسه کړې وي
» د زده کړو په وخت کې مو پیسې ترلاسه کړې وي
» او له شل کلنۍ څخه مخکې مو وروستۍ ځل له مونږ څخه پیسې ترلاسه کړې وي

د ټولنیزې ګټې اداره تاسو ته خبر درکوي چې څه وخت تاسو باید پیسې بېرته ورکړئ.

**ستاسو حقوق**

که چېرې تاسو غواړئ لاندې کارونه تاسو ترسره کولای شئ

**ستاسو حق او دفاع**

د ټولنیزې مرستې د ترلاسه کولو په وخت کې بیا هم تاسو حق لرئ او کولای شئ چې:

» قراردادونه وکړئ
» وصیت وکړئ
» تاسودعوا کولو اجازه لرئ
» تاسوخپل ماشومان روزلی شئ

**دسندونوپه هکله پوهاوی لرل**

د سیمې اداره یا ګماینده ستاسوټول سندونه او اطلاعات راټولوي او تاسو د اړتیا په وخت کې داسندونه کتلی شئ، دا ستاسو حق دی.

**حقوقي دعوا**

مخکې تر دې چې د ټولنیزو مرستو اداره پرېکړه وکړي تر څو ستاسو پیسې کمې او هم بندې کړي او یا تاسو ته ووایي چې تاسو څه باید وکړئ او کومې پیسې باید بېرته ورکړئ باید تاسو ته د دعوا حق درکړل

شي. دا په دې مانا چې د هغوی له پرېکړې مخکې له چارواکو سره په دې هکله خبرې او هرڅه ورسره له نږدې کتلی شئ.
که چېرې تاسو د ادارې له پرېکړې سره همږغي یا موافق نه یاست نو د مرستو ادارې ته ورشئ او لامل یې ورڅخه وپوښتئ که چېرې بیا هم موافق نه یاست نو په لیکلي بڼه یې ورڅخه پرېکړه ( دا کار د شکایت په وخت کې کیږي)

**شکایت**

که چیرې د سوکاله ژوند کولو له ادارې سره موافق نه یاست کولی شئ ترشلو وروځو پورې شکایت وکړئ له هغه وروسته دشکایت حق نه لرئ!
دشکایت دطرح کولو له پاره یولیک ولیکئ په دې لیک کې دا واضبح کړئ چې ولې له پریکړې سره موافق نه یاست.

تاسودالیک د سوکاله ژوندکولود ادارې دمقام له لیک سره یوځای دې ادارې ته ولیږئ

Regierungsrat des Kantons Schwyz
Beschwerdedienst
Bahnhofstrasse 9
Postfach 1200
6431 Schwyz

**دټولنیزې سوکالۍ دادارې ژمنې اوتعهدات**

دغه اداره هم مسؤلیتونه لري چې:

دټولنیزې سوکالی دفتردنده ده چې ستاسو غوښتنلیکونه وڅیړي. تاسویوغوښتنلیک د سوکاله ژوند کولوسازمان یا ښاروالۍ ته استوئ.

ددغه سازمان دمقاماتو دنده ده چې ستاسو غوښتنلیک وګوري اووې څیړي اوتاسوته یې په هکله ځواب ووایی دغه سازمان باید ژر له ډیرانتظارپرته ستاسو ستونزه درحل کړي.

**محرمیت یا خوندیتوب**

هغه کسان چې د ټولنیزې سوکالی په اداره کې کارکوي ستاسوپه هکله ډیرزیات اومهم معلومات لري په همدې وجه هغوی باید ستاسو راز وساتي داپه دې مانا چې هغوی ستاسو په هکله بل کس ته د مالوماتو ورکولو اجازه نه لري.

**ليکلي توضيحات اوڅرګندوني**

که چيرې د سوکاله ژوند کولواداري يا ښاروالي ستاسو غوښتنليک رد کړ اويايې ونه غوښتل چې تاسوغوښتنه پوره ومني.

دغه اداره بايد په دې هکله تاسوته ټول جزيات څرګند کړي او دليل يې هم وليکي. دغه اداره دلايلوته په پام سره د (دحکم وړبحث ) تاسوته درليږي که چيرې کومه غوښتنه يې تاسوته دمنلو وړ نه وي کولی شئ دهغې په هکله بياځپله غوښتنه مطرح کړئ.

**دمرستي وړانديز**

بيا تاسو کولای شئ په خپلو پښو ودريږئ او يا هم له دغې ادارې سره يو ځای يوه حل لاره پيدا کړئ.

# څوټکي

ژر مرسته ترلاسه کړئ:

که چیرې ستونزه لرئ یاکوم شي اویا لیک باندې نه پوهیږئ ژر د ټولنیزې سوکالۍ ادارې ته ورشئ.

ځان ښه چمتوکړئ:

دملاقات په ورځ خپلې ټولې پاڼې اوکاغذونه درسره واخلئ اومخکې له مخکې خپلې ټولې پوښتنې په یوه کاغذکې ولیکئ.

دټولنیزې سوکالۍ له ادارې سره همکاري وکړئ:

دټولنیزې سوکالۍ اداره غواړي تاسوسره مرسته وکړي نو له کارکوونکوسره یې ترخپلې وسې همکاري وکړئ.

غلط اوناسم معلومات مه ورکوئ:

آیا زیاتې آوازې اوڅرګندونې اورئ ؟

بیانودټولنیزې سوکالۍ داداري له مقاماتوسره په اړیکه کې شئ ترڅوسم معلومات ترلاسه کړئ اوهمدارنګه تاسو سره د مرسته شوو پیسو پرتله له نورو سره مه کوئ هره پېښه جلا ده.

هڅه وکړې چې له ټولنیزو مرستو پرته ځانته مستقل ژوند ولرئ، نو ددې لپاره یو کسب زده کړئ څو په آسانۍ سره ځانته کار پیدا کړئ.

**ځرګندونه**

ما دځان په باب دحقونو اوژمنومعلومات ولوستل په ټولويی پوره پوه شوی یم

زما اوزما کورنۍ ..........................................................................................

ځای او نېټه ...........................................................................................

لاسليک ...........................................................................................

# د ټولنيزې اداري مرستې

